# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

(خبرپاڼه)

دویم کال -۱۳مه ګڼه | پرله‌پسې ۲۷مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۴/۱۲




په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د اقتصادي همکاریو سازمان غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ګډون

۲- کندهار او هلمند کې د اوبو د مدیریت دوې مهمې پروژې پرانیستل شوې

# د اقتصادي همکاريو سازمان غونډه کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ګډون



د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادراخوند د اقتصادي همکاريو سازمان (ايکو) اوولسمې سرمشريزې غونډې کې د ګډون په موخه د اذربايجان خنکندي ښار ته سفرکړی دی. ټاکل شوې چې دغه غونډه د روان ميلادي کال د جولای مياشتې په دريبمه او څلورمه نېټه جوړه شي. د ايکو سازمان غړو هېوادونو شمېرلسو ته رسېږي. افغانستان، اذربايجان، ايران، ترکيه، پاکستان، ترکمنستان، ازبکستان، قرغزستان، تاجکستان، او قزاقستان يې غړيتوب لري. ايکو سازمان په ۱۹۸۵ کال کې د غړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ، پانګونې، ترانسپورټ، انرژۍ او سيمه‌ييزې اقتصادي همکارۍ د پراخولو په موخه رامنځته شوی دی.

د يادې سرمشريزې له پاره محترم ملا عبدالغني برادراخوند ته رسمي بلنه ورکړل شوې او تمه ده چې د غونډې پرمهال د کوربه هېواد اذربايجان او يو شمېر نورو ګډون کوونکو هېوادونو له مشرانو سره دوه اړخيزې ليدنې ترسره کړي. هيله ده چې دغه ليدنې به مثبتې پايلې ولري. په دغه مهمه سيمه ييزه اقتصادي غونډه کې د افغانستان اسلامي امارت د پلاوي ګډون د هېواد له پاره يوه مهمه لاسته راوړنه بلل کېږي. دا غونډه د افغانستان له پاره يو ارزښتناک فرصت دی. د دې غونډې له لارې به د غړو هېوادونو او خصوصي پانګوالو پانګونه جلب شي او د سوداګرۍ د پراختيا په اړه به مهم او ګټوربحثونه وشي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال هڅه کوي چې د ايکو سرمشريزې غونډې ګډونوالو ته د افغانستان په بېلابېلو سکټورونو کې د پانګونې فرصتونه وړاندې کړي او هغوی وهڅوي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. د لاجوردو دهليز د فعاليت موضوع هم د اسلامي امارت د پلاوي په اجنډا کې شامله ده.

محترم ملا عبدالغني برادراخوند به د لاجوردو دهليز په مسيرکې پراته هېوادونه وهڅوي چې دغه دهليز په بشپړډول فعال کړي، ځکه د سيمه ييز اتصال او له اروپا سره د افغانستان د نښلولو له پاره مهم دهليزدی. افغانستان په سيمه ييز اتصال باورلري او غواړي چې د سيمې هېوادونه په خپلو کې په لوړه کچه اقتصادي همکاري او سوداګري ولري، ځکه دا د سيمې د ټولو ملتونو په ګټه ده. د يادونې وړده چې په وروستيو کلونو کې په افغانستان کې د بهرنۍ پانګونې کچه لوړه شوې او اسلامي امارت هڅه کوي چې له دې ډول نړيوالو غونډو څخه د هېواد د اقتصادي ودې او سيمه ييزو همکاريو د پراختيا له پاره ګټه واخلي.

# کندهار او هلمند کې د اوبو د مدیریت دوې مهمې پروژې پرانیستل شوې

د افغانستان اسلامي امارت د مسوولینو له لوري د هېواد سویل کې د هېواد د اوبو د مدیریت په موخه دوه مهمې پروژې پرانیستل شوې، چې یوه یې د کندهار ارغستان ولسوالۍ کې د لوري بند د امکان سنجۍ مطالعاتو او تفصیلي ډیزاین پروژه ده او بله یې د هلمند ولایت په سنګین ولسوالۍ کې د نهرسراج کانال د رغولو د لومړي لاټ پروژه ده.

د لوري بند د چارو د پیل په غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د دغه بند مطالعات او ډیزاین د هېواد د اوبو د مدیریت او اقتصادي پراختیا په برخه کې د اسلامي امارت د ژمنې ښکارندويي کوي. د اوبو او انرژۍ سرپرست وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور په خپلو خبرو کې د یاد بند جوړېدل د اوبو د مدیریت او کرنې د پراختیا په برخه کې حیاتي وبلل او ویې ویل چې اسلامي امارت په لږو امکاناتو سره د هېواد د ابادۍ او ځان بسیاینې په برخه کې ستري لاسته راوړنې لري.

د هلمند په سنګین ولسوالۍ کې د نهرسراج کانال د رغولو د لومړي لاټ پروژې د پرانیستې مراسمو کې د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وویل، د دغې پروژې پلي کول په هلمند کې د اوبو چمتو کولو او د کرنې د ودې په برخه کې ارزښتناک دي او زیاته یې کړه چې د یادې پروژې په پلي کولو سره به د نوموړي کانال اوبه بېرته لومړي حالت ته وګرځي او د ټولو حقابه لرونکو حقابه به تامین شي.

همدا راز محترم ملا عبداللطیف منصور وویل په هلمند کې د درېیو چکډیمونو پروژې هم په پام کې نیول شوې چې نږدې راتلونکې کې به یې چارې پیل شي.

د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د اوبو مدیریت په خپل لومړیتوب کې نیولی او په دې اړه یې په تېرو څو کلونو کې د اوبو د مدیریت ګڼې پروژې پیل کړې دي.

د هېواد د اوبو مدیریت د افغانستان د اقتصادي پرمختګ له پاره ډېر مهم دی. د اوبو له مدیریت سره به په هېواد کې د انرژۍ او کرنې سکټور کې د پام وړ بدلون رامنځته شي. د انرژۍ تولید او د کرنې پراختیا به په هېواد کې د کاري فرصتونو د ایجاد او د هېواد صنعتي ودې ته لاره هواره کړي.

